{ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ}

له زبير بن العوام څخه روايت دى وايي: كله چې دا آيت نازل شو {ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ} [التكاثر: 8] ،بيا به په دغې ورځ كې له تاسو نه خامخا ضرور د نعمتونو په باره كې پوښتنه كېږي ، نو زبير وويل: اې د الله رسوله: هغه كوم نعمتونه دي چې زمونږ څخه به يې پوښتنه كيږي، پداسې حال كې چې يوازې دوه تور خواړه لرو چې يو يې خرما او بل يې اوبه دي؟ هغه وفرمايل: «خبردار اوسئ چې له همدې څخه به كيږي».

[حسن] [الترمذي او ابن ماجه روايت كړى دى]

كله چې دا آيت نازل شو: {ثم لتسألن يومئذ عن النعيم} {بيا په هغه ورځ به له تاسو څخه د نعمتونو په اړه پوښتنه وشي} هغه دا چې: له تاسو څخه به د هغه نعمتونو د شكر په اړه پوښتنه وشي چې الله تعالى تاسو ته درکړي دي، زبير بن العوام رضى الله عنه وويل: اې د الله رسوله! هغه كوم نعمتونه دي چې په اړه به يې زمونږ څخه پوښتنه كيږي؟! يقينا چې دا خو دوه نعمتونه دي د دې وړ ندي چې په اړه يې پوښتنه وشي؟! چې هغه خرما او اوبه دي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له تاسو څخه به په همدې حالت كې د نعمتونو په اړه پوښتنه وشي چې تاسو په كې ياست، ځكه چې دا د الله تعالى له نعمتونو څخه دوه لوى نعمتونه دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65075

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee